سراج‌الحق ببرکـزی ځدراڼ

۲۰۲۴/۰۸/۲۵

# مننلیک

د افغانستان ملي خپلواکۍ د 105 مې کلېزې په وياړ او د يوولسم اکتوبر د پښتنو قامي عدالت، د پښتنو ملي جرګې دابرېدو په وياړ؛ د افغانستان په لوی قاموس کې د پښتنو حقوقي نورمونو او ارزښتونو ايډيالوژيک بنسټ کتاب خپرېدل:

دا کتاب په داسي يو وخت کې خپرېږي، چې له يوې خوا د افغانستان ملي او سياسي خپلواکۍ شپې ورځې دي، له بلې خوا «درست پښتون له قندهاره تر اټکه ــ سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار» د راروان کال د اکتوبر په يوولسمه نېټه د پښتنو قامي عدالت او د پښتنو سترې جرګې رابللو لپاره تياریاني او بندوبستونه روان کړي دي. د دغه کتاب مخکتنه او ارزونه، د افغانستان لوی قاموس پېژندل شويو منليو، مخورو ملي پوهانو، څېړنوالانو، ليکوالانو، علمي او ادبي محقيقېنو او شنونکي لخوا ترسره شوي ده.

کتاب د افغانستان مخورو عالمانو تر علمي او اکاډيميک څېرک نظر ورسته خپور شوي دی. "پښتونوالي د پښتنو د ټولنيز ژوند يو ناليکل شوي عرفي قانون دی. چې پښتانه يې د زرګونو کلونو راهيسې د خپلو ټولنيزو اړيکو سمبالولو، د ملي او نړيوالو مسايلو او ستونزو په حلولو کې، د ټولنيز نظم ساتلو، په ټولنه کې د عدل او نصاف راوستلو، د ژوندانه د نورو چارو د سمبالولو او د انساني ژوند په هر اړين پړاو کې د پښتونولي حقوقي نورمونه او ارزښتونه پلي کېږي. مرکې او جرګې د پښتنو او پښتونولي د سر تاج ګڼل کېږي، پښتونوالي زموږ د پلرونو او نيکونو ميراث د يو لرغوني ګرانبيه الماس په څېر د ټولو پښتنو پر تندي او تاريخ باندي ځلانده ځلېږي.

" پښتونولي کې په ريښتيني توګه د نورماتيف ژوند طرز يا دول منځ زړي شتون لري. پښتونولي نه يواځې د پښتنو د ژوند طرز دی، بلکې ټولو پښتنو ته يوه طبعي خبره ده، چې پښتونولي د دوی د حقوقي نورمونو نظم، کولتوري ارزښتونو، اخلاقي معيارونو، ټولنيزو اصولو او دوديزه نرخونو ترمنځ د اړيکو د رامنځته کولو او ساتلو يو سيستم دی. د پښتونولي جرګې پرېکړې په ولس کې دومره منل شوي دروند ځای لري، چې ان عدلي پرېکړې په ازاد عام محضر کې د خلکو د ګډون پر بنسټ کوي، لکه د پي ټي ايم لخوا د يوولسم اکتوبر قامي جرګه رابلل، چې د پاکستاني رياست لخوا پر پښتنو د شويو ظلمونو او وژنو جاج اخلي او پرېکړه به وکړي.

دغه کتاب د افغان جرمن انلاين پورتال د پېژندل شوي ليکوال، ژباړن او محقق ښاغلی رحمت اريا لخوا ايډيټ شوی، کره کتنه او اصلاح شوي دی.

د ښاغلی رحمت آريا، کتابخانه اثار علمي و تحقيقاتي حبيبيه څخه، ښاغلی ډيپلوم انجنېر قيس کبير "د افغانستان لوی قاموس" يا (قاموس کبير افغانستان) کاري ډلي لخوا او د نورو مخورو مسوولو کسانو په کې څښت ډېر زيار ايستلي دی. د افغانستان لوی قاموس بنسټ اينودونکي، ښاغلی ډيپلوم انجنېر قيس کبير، اغلی استاده صالحه واهب، اغلی پوهندوی استاده شيما غفوري، ښاغلی نبيل عزيزي، ښاغلی آصف بهاند ښاغلی عبدالرحمن غوربندی، ليکوال شاعر ورځپاڼه ليکونکي ښاغلی استاد مسعود فاراني، اغلی نصيبه اکرم حيدری، ښاغلی سيد عظيم حسينی، اغلی ډاکټره راضيه قريشي، ښاغلی رحمت اريا، ښاغلی ولي والله ملکزی، ښاغلی عبدالقيوم ميرزاده، ډاکټر عبدالکريم وزيري، ښاغلی پوهاند محمد بشير دوديال، ښاغلی احسان لمر، ښاغلی محمد شريف منصور، کانديد اکاډيميسن اعظم سيستاني، او ډاکټر سيد عبدالله کاظم دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

افغان جرمن انلاین پورتال یو رېښتېنی ملي، سیاسي او ادبي پورتال دی. د دې ویبپاڼې کارکونکي شپه ورځ په ډېره عالي سویه، ملي روحیه او په ډېره حوصله مندي سره ژورنالیستکي ادبي کارونه ترسره کوي او پر ملي نړیوال کچ ډېرې ښکلي خپروني او په زړه پورې علمي تاریخي، سیاسي لیکنې خپروي. دغه پورتال د افغانستان ملي لیکوالانو لیکنې په منظم ډول خپروي. زه یاړم، چې د افغان جرمن ویبپاڼې قلمي همکار یم. زه خپله د " د پښتونولي حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ کتاب لیکوال سراج الحق ببرک زی شخصاً د دې ملي مخورو مشرانو، پوهانو د زیارونو، ستاینو او مرستو څخه په دې کتاب کې د زړه له تله مننډوي کوم. د افغانستان لوی قاموس یا دایرهٔ المعارف د ټولو نوموتو ملي افغانانو لیکنې خپروي. د پردېو د فرهنګي یرغل په وړاندې یو روښانه واضع ملي دریځ لري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ